ماشومانو مقدس کتاب

وړاندې کوونکے

# د حضرت عیسی
# په دریاب کښې
# طوفان آرامول



لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Janie Forest
Alastair Paterson

خوښونکے: Ruth Klassen

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددگار: Bible for Children
www.M1914.org

©2023 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نهٔ شئ.



بیا عیسی مسیح په
کشتۍ کښې سور شو او
مریدان هم ورسره
سوارهٔ شول. خو په
دریاب کښې یو زورور
طوفان راغلو او چپې
داسې اوچتېدې چې په
کشتۍ راوا‌ړېدې. په
داسې قسمه طوفان کښې
کشتۍ ماتېدے هم شوه
او ډوبېدے هم شوه.

طوفان شاګردان ویرول، او چپو کشۍ د اوبو نه ډکه کړه. خو عیسی بنۀ په سکون سره اودۀ وو. نو مریدان ورغلل او رابیدار یې کړو چې، مالکه مونږ. بچ کړه مونږ. ډوبیږو.



تاسو ولې دومره یرېږئ، ستاسو ایمان څومره کمزور ے
دے؟ بیا هغه ودرېدو، طوفان او د اوبو چپې یې ورټلې نو
په هغه ساعت قلاره قلارې شوه.



طوفان قلار شو... سمندر په آرام شو... او قلاره قلاری شوه. مریدان په دې ننداره ډېر حېران شول او دوئ ووئیل چې، ”دا لا څۀ قِسم سړے دے چې هوا او چپې یې هم حکم منی؟“





 څۀ موده وروستو، عيسی مسيح يوه مصروفه ورځ تېره کړه. تقريباً څۀ پينځۀ زرو نه هم زيات خلق په هغۀ پسې يو خوشی بيابان ته راغلل. د خدایٔ پاک په قدرت سره عيسی مسيح هغه ټول خلقو صرف د يو وړوکی هلک په ډوډیٔ باندې ماړۀ کړل. دا د ماښام وخت وو نو عيسی مسيح ټول رُخصت کړل.

تر دې چې شاګردان يې هم لاړل. عيسی مسيح هغوئ په کشتۍ کښې ولېږل چې هغوئ د هغهٔ نه مخکښې د ګليل درياب پورې غاړې لاړ شی.





او چې کله هغۀ ټول
رُخصت کړل، نو
عیسی مسیح په خپله
د دعا د پاره غر ته
لاړو. او کله چې
ماښام ناوخته شو نو
هغه هلته کښې
یواځې وو.



په هم هغه وخت کښې مريدانو
ته د وچې نه ډېر وړاندې په
اوبو کښې تکليف جوړ شو
ځکه چې کشتئ اوبو په
مخکښې تلو ته
نۀ پرېښودله.
او هغوئ د
ګنټو داسې
چَپو وهلو.

شاګردانو ته دا پته نۀ
وه، خو دا د هغوئ د
پاره ډېره د حېرانتيا
خبره وه!





عیسیٰ په شپه کښې د سحر
کېدو نه لږ وړاندې د اوبو
دپاسه روان وو او د مريدانو
خوا ته راغلو. هر کله چې
مريدانو هغه د اوبو دپاسه
روان وليدو نو هغوئ
ويرېدل، او چغې يې کړې،
”دا خو پيرے دے.“ خو
هغه عيسی مسيح د هغوئ
مالک وو. څوک چې د
هغوئ په طرف د اوبو د
پاسه راروان وو.

عیسیٰ ورته سمدستی
وفرمائیل چې، ”مهٔ یرېږئ.
دا زهٔ یم چې یره ونهٔ کړئ.“
پطروس عیسیٰ ته ووئیل
چې، ”مالِکه، کهٔ چرې دا تهٔ
یې نو ما ته حُکم راکړه چې
زهٔ هم د اوبو دپاسه درشم.“
عیسیٰ ورته وفرمائیل چې،
”راځه.“ بیا پطروس د
کِشتۍ نه کوز شو او د اوبو
دپاسه د عیسیٰ خوا ته
ورروان شو.





خو هر کله چې هغهٔ
د طوفان زور ولیدلو
نو هغه وویرېدو، او
چې ډوبېدو نو چغې
یې کړې چې،
”مالِکه، ما بچ کړه.“

عیسیٰ سمدستی خپل لاس وراوږد کړو او
هغه يې د لاسه ونیوو او ورته يې وفرمائیل،
"ستا عقیده څومره کمزورې ده. شک دې
ولې وکړو؟" هغوئ چې کله په کِشتئ کښې
سوارهٔ شول بیا طوفان ودرېدلو.



نو په کشتۍ کښې ناست
مريدان ورته په سجده
شول او وې وئيل،
”بې‌شکه، چې تهٔ د خُدائ
پاک زوئ يې.“



د حضرت عيسى په درياب کښې طوفان آرامول

دَ خدایٔ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قيصۂ

شته دے

متی ۸، متی ۱٤، مرقوس ٤، لوقا ۸

"ستا دَ خبرو تشريح نُور بخښی ـ"

زبور 130:119

ختم شو

48

60

دا قیصۍ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر غلط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وايې. د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغۀ خپل یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولۍ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کۀ تۀ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغۀ نه د خپلو ګناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوګنه کوی او تۀ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کۀ تۀ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زۀ ایمان لرم چې هم تۀ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تۀ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما ګناهونه وبخښه، چې زۀ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم. زما مدد وکړه چې زۀ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲